بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**ټرمپ د داعش او ښي لاسو سپين پوستو سختدريځو بريدونه بل ډول پرتله کوي**



**خبر:**

د امريکا متحده اياالاتو ولسمشر ډونالډ ټرمپ د هغه بريدګر په اړه چې په نيويارک ښار کې يې خلک پر موټر ووهل سخت غبرګون وښود او په خپل ټوېټر پاڼه کې يې ليکلي و: «بريدګر ناروغ او ليونی دی.» دغه راز يې ژمنه وکړه هغه خلک چې امريکا متحده ايالتونو ته ننوزي د څارنې لپاره به يې کوټلي ګامونه واخستل شي.

د سه شنبې ورځ ناوخته يو لارۍ چلوونکی له دې څخه مخکې، چې د پوليسو په ډزو ټپي شي په نيويارک ښار کې يې خپل کرايي پيک اف موټر پر بايسکل سورو او پياده خلکو وروست او لږ تر لږه اته تنه يې ووژل او ۱۱ تنه يې ټپيان کړل.

د نيويارک ښاروال بيل ډي بلاسيو دغه بريد يو ډارن بريد وښود، همدا راز پلټونکو دا يوه تروريستي پېښه وبلله.

کورني مطبوعاتي مرکزونو د قانون پلي کوونکو سرچينو ته په اشاره کې وويل: بريدګر سيف الله سايپو په موټر کې په پريښي يادابښت پاڼه کې له داعش او د ختيځ مديترانې له ډلې سره خپله وفاداري څرګنده کړې وه.

د متحده اياالاتو ولسمشر ټرمپ په خپله ټوېټر پاڼه کې ليکلي و: «داعش په منځني ختيځ او نورو ځايونو کې ماته خوړلې. موږ بايد دوی ته اجازه ورنه کړو، چې زموږ هيواد ته دننه شي.» نوموړي زياته کړه: «ما د کورني امنيت د څار اداري ته لارښوونه کړې، چې متحده اياالاتو ته د ننوتلو د څار پروګرام نور هم سخت کړي. دا پروګرام له سياسي پلوه کومه ستونزه نه لري، خو له امنيتي پلوه بايد په کره توګه وڅېړل شي.»

(سرچينه: الجزيره خبري ويبپاڼه، ۲۰۱۷م د نومبر ۲ مه).

**تبصره:**

له نهمې پېړۍ راهیسې اسلام امریکا ته راغلی. په داسې حال کې، چې خلک له اروپا څخه د مذهبي تاوتریخوالي له امله د تېښتې په حال کې و او په نوې نړۍ کې یې ژوند پېلول غوښتل. څومره دردوونکې ده چې د امریکا متحده ایالاتو خلک له یوې ناوړه او کرغېړنې ټولنې ملاتړ کوي! څرنګه د هغه هېواد خلک چې د دېموکراسۍ سمبول دي یو داسې سطحي فکره او احمق سړی د خپل ولسمشر په توګه غوره کوي؟

د خالق له اجازې پرته هېڅوک د چا ژوند نه شي اخستلی، ځکه هغه یوازېنی پیدا کوونکی دی.

په هیواد کې د جنايي کړنو پر وړاندې د ټرمپ غبرګونونه توپیري دي، ځکه چې ټرمپ او د ده ملاتړو د امریکا په نیواډا ایالت کې ډلهییزې وژنې ونه غندلې او نه یې په اړوند ناخوښي څرګنده کړه. دغه غوسه او کرکه یوازې د مسلمانانو او اسلام پر وړاندې ده.

د بالفور اعلامیې (Balfour Declaration) وروستۍ سلمه کلیزه بنیي، چې په لوېدیځ کې د توکم وژنې او ټولوژنې وحشي کړنې په دوامداره ډول په نا عادلانه توګه تر بحث لاندې نیول کېږي. برتانیا تر اوسه پورې پر خپل هغه خیانت او رول ویاړي، چې د فلسطین د مسلمانانو په ناروا ټولوژنه کې یې لوبولی او لا هم دوام ورکوي. دوی پر خپل خیانت او چل سترګې پټوي. دوی زموږ په هېوادونو کې زموږ د ماشومانو له وینې تویېدنې څخه خوند اخلي. الله سبحانه و تعالی موږ په دې اړه خبر کړي یو:

**﴿لَقَدْ جِئْنَاكُم بِالْحَقِّ وَلَكِنَّ أَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كَارِهُونَ * أَمْ أَبْرَمُوا أَمْرًا فَإِنَّا مُبْرِمُونَ * أَمْ يَحْسَبُونَ أَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَاهُم بَلَى وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُونَ﴾**

*ژباړه: په حقیقت کې موږ تاسې ته حق څرګند کړ، خو ستاسو ډېری له حق څخه مخ اړوي. دوی په خپلو منځونو کې پلانونه جوړ کړي دي، خو موږ یو، چې پلانونه پلي کوو. ایا دوی فکر کوي چې موږ د دوی رازونه او پټې مشورې نه اورو؟ په حقیقت کې موږ اوربدلي دي او زموږ پرېښتې د دوی کړنې لیکي.*

[الزخرف: ۷۸-۸۰]

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**محمد حمزه**